بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارگان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنگي و نشراتي ارگان
Dr.Said Afghani

د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنگي او نشراتي ارگان ته ښه راغلاست!



د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيټه : ۹ جون ۲۰۱۳ ميلادی

# لاړشه

ناڅاپه په ښ کې

ديورژيدلې ګل په

ننداره شوم

چې شاو خواو يې

تازه تاند ګلونه غوړيدل

خود دی په کې او

خپه مړاوی و

هرخوا

هر راز

بوراګان او پتنګان نڅيدل

عجيبه غوندې

سودا راپيدا شوه

وچلي يې راته کنځې کړ

او زړه يې راته په ټوپونو راوست!

او

يو غږ راپورته شو

چې

هي خدايه !

ولې ؟

په ده څه بلا

څه افت پريوتی

چې

رژيدلی

له ځان سره مې وويل

ځه څه يې کې

او ترې شوم روان

خوبيا مې په زړه شو

بيا راته ولويده سودا

او شوم ور روان

چې ور نږدې شوم

له غوسې ډك غږ ترې پورته شو

مه راځه

نږدې

مه راځه

نږدې

داسي نه

چې

زما بلا

پرتا پريوزي

موسکي شوم ورته

او ومي ويل

ښه نو

په تا څه بلا پريوتي ؟

چې

داسي رژيدلي يي ؟

له آه !سره سم يي وويل

په پسرلي کي

د چا د لاس نښه يم

په مرځان کي مي

سا راغله

سترګي مي له نازه خلاصي شوې

هيڅ ځاې راته نښکاري

پوه شوم چې

د تورو

خاورو لاندي يم

ويده وم چې تازه هوا مي

په تندي ولګیده

سترګي مې خلاصې کړې

ګورم چې

له شنو بوټوسره

له ځمکی راوتلي یم

ډیر وهڅیدم خو

راوتلی نشوم

داده شوم چې نشم څه کولای

د الهي حکم ته په تمه شوم

کله به له اوبه نه مړیدم

کله به له تندي مړکیدم

ورو وروميږ

وجود څرګند شو

ودریدم

وغوړیدم

په مستی او په ځوانی

له غروره

په خپل ژوند ډیرو نازیدم

بي خبره له دې

چې زه هم زړیږم

ناڅاپه

له یوې خوا پټنګان

شول را پیدا

راغلل چې

واخلي خوند

زما له څوانی

خو

په ناز می ځان په پانوکې

پت کړ

یو پتنګ دپر تاو راتو شو

خو

ما ورته نکړ ځان عیان

په الوتوالوتو ستړې شو

له قهره لاړ او لیرې شو

والوته د ونو په لور

زه

څه پوهیدم

چې

اوس به ژوند کړې

راباندې حرام

لاړاو

د مچیوپر ځالي

کیناست

یوه مچی راووته

او

نور يي هم پري خبر کړل

له چتکی راکښته شو

اونيغ راغلی زما په لور

مچيو ورپسي

هی کړل

راغی زما په سر کيناست

مچي راباندی ونښتي

داسي يي وچيچلم

چي راکي

هيڅ توان پاتي نشو

زه په چيغو

خو دمچيو مستي شوه

جوړه

ان تردي

چي

هسکه غاړيي

کړه راباندي

ماته

او

زه يي ورژولم

تاته

همدا زما

نصیحت دی

چې

مه نازیږه په دا ژوند

په دیرغرور به

ګرځې

هره خوا

اوپه هسکه غاړه

بې خبره

له دې دنیا

چې فاني ده او رژیږي

زماپه شان به ته هم

له ځوانۍ پریوزي

هغه وخت

به څه کوې ؟

چې

له هرڅه اوسي پاتې

دخپل ځان

په سودا شه

ما پریږده ، ما پریږده

لاړ شه ، لاړ شه ، لاړ شه ......

****

مجیب الرحمن « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org

هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند ځرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم مولانا سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است